دفرهنگي تولني اوجهاد هنداري مسوولين اومنسوبين دجهاد هنداري اونيزې دوهم نشراتي كال پيل خپل مجاهد ملت اوټول اسلامي امت ته بختورغواړي؟

روس امريكا دوسلو په بندولوسره موافقي ته ورسيدل

مسكو ، دسنبلى ٢٤ مه :
دنړيوالو خبرى منابعوله مخې دسنبلى په ٢٢ مه نيټه په مسكوكې دامريكا دبهرنيوچارو وزير جميز بيكر اودشوروى اتحاد دبهرنيو چارو دوزير بوريس پنكن لخوا په ګډه سره يوه اعلاميه خپره شوه.
خبر زياتوى روس امريكاپه ګډه موافقه كړى چې د١٩٩٢ م كال دجنورى مياشتى لومړى نيټى څخه به دافغانستان دجګړى په ښكيلو دواړو خواوو(دحقى لارى په مجاهدينواودكابل ګوډاګى رژيم)ته په وسلو وركولوبنديزونه ولګولى شى ترڅو دافغانستان دقضيى دسياسى حل لارى چارى هوارى شى .

هفته نامه
جهاد هنداره
مراة الجهاد

PROPERTY OF ACKU

په پكتيا كې ددښمن يوه جيټ الوتكه راوغورځول شوه

پكتيا ، دسنبلى ٢٤ مه :
دپكتيا ولايت دمركز ګرديزله جهادى سنګرونو څخه دجهادهندارى خبريال خبر راكوى چې مجاهدينو ددوشنبى په شپه دمزدور رژيم يوه جيټ الوتكه چې دمجاهدينو پر مركزونو يې بمبارى كوله دستنګر په وسيله ويشتلى اودوچې كندى په سيمه كې راغورځيدلى ده .
خبريال زياتوى چې دګرديز په ښار او شاوخواپوستودمجاهدينو ددرنو وسلووقفوى بريدونو لړۍ روانه ده اودښمن الوتكى دمجاهدينو پرمركزونو او داستوګنو په كوروڼولږله پسى بمبار كوى .

دوهم كال – لومړۍ ګڼه (پرله پسي (٥٣مه) ، چهارشنبه د ١٣٧٠ هـ ش كال دسنبلي (٢٧مه) د١٤١١ هـ ق دربيع الاول (١٠مه) د١٩٩١ دسپتمبر (١٨مه)

الحاج حقاني دبي ، بي ، سي راديو دخبريال سره په ټليفوني مركه كې :

دروس – امريكا موافقه او وړانديزونه زموږ دجهاد پرضد ګډ سازشونه دي

په ٧ مخ كې

مجاهدين لغمان ٢٣ تن از افراد رژيم را هلاك كردند

لغمان ، ميديا :
يك منبع جهادى به ميديا ګزارش داد كه مجاهدين بروز ١٥ سنبله بالاى مركز ولايت لغمان وقلعه حاجى حمله نمودند كه در نتيجه ١٣ نفر افراد رژيم هلاك ٢١ نفر زخمى و ٥ نفر ديګر با اسلحه دست داشته به مجاهدين تسليم ګرديدند .
طبق يك خبر ديګر مجاهدين بروز ١٤ سنبله برپوسته هاى امنيتى رژيم در اطراف ولايت لغمان حمله نمودند كه در نتيجه ١٠ نفر ازافراد رژيم هلاك عده زخمى وسه نفر ديګر با سلاح هاى خود به مجاهدين پيوستند .

دكابل – حيرتان لاره دترافيكو پرمخ بنده شوى

په پيښور كې دقوماندانانو سرتاسرى شورا دفتر دبغلان ولايت نه خبر وركړى چې مجاهدينو دكابل-حيرتان په لويه لاره دكابل رژيم قواوى دبغلان ولايت دخنجان او دوشى په ولسوالى كې سالنګ ته نږدې دسختو بريدونو لاندى نيولى چې په نتيجه كې تراوسه دلويى لارى دڅارنى درى ستراتيژيكى پوستى خنجان كې فتح شوى ٥ تنه مليشه وژل شوى اويو شمير نور يې سخت ټپيان شوى دى .
ددغه منبع درپوټ په حواله ويل شوى دمجاهدينو په لومړنى دوه ورځنى بريدونو كې ٨ تنه مليشه ، ١٥ ميله كلاشينكوفونه ، او زياد نظامى مهمات دررژيم له قواوو څخه نيولى اوپاتى مليشه قواوى يې په تيښته مجبورى كړى اولاره دترافيكو په مخ بنده ده ، درپوټ مطابق په دغه جګړه كې چې پرلپسى دوام لرى دكمونستى رژيم دهوايى قواو بمبارى اوتوپونو دزو له امله يو شمير ودانى ړنګى شوى ، چې دتلفاتو په هكله پوره رپوټ ندى ترلاسه شوى .

بروز اختلاف ميان خالقيار و نجيب

صدراعظم رژيم كابل غرض ديداربا ګرباچوف به روسيه مي رود

درصفحه ٨

زه ولې مسلمان شوم ؟

په راتلونكې ګڼه كې

نوميالى قوماندان الحاج محمد ابراهيم له جهاد هنداري سره په مركه كي :

دخوست ويارنه فتحه د قوماندانانو دسرتاسري شورا دفعاليتونو غوره بيلګه ده

په ٣ مخ كي

دررژيم ٣٠٠ تنه مليشه مجاهدينو ته تسليم شول

فارياب ، ميډيا :
دفارياب ولايت څخه ميډيا رپوټ وركړى چې دسنبلى په ٢٢ مه نيټه دكابل رژيم دقوماندان شرابيك دمليشه وو دوه قوماندانان نجيب الله او عبيدالله د ٣٠٠ تنو مليشه و سره چې دفارياب ولايت دشرين تګاب ولسوالۍ په شمال ختيځ ١٥ كيلومترى كې په يو كندك اوڅو پوستو كې ځاى په ځاى وو دخپلو كورنيو سره مجاهدينو ته تسليم شوى دى .
په رپوټ كې ويل شوى دى چې دغه مليشه و دځان سره ١٥٠ ميله سپكه او ١٠ ميله درنه وسله او په زياته پيمانه مهمات مجاهدينو ته راوړى دى .

سيلاب هاى مدحش در بنګله ديش

ډاكه ، ٢٢ سنبله :
سيلاب هاى مدحشى درقسمت هاى شمالى وشمال مغربى پاكستان مناطق وسيعى رازير اب نموده باعث هلاكت بيش از ١٠٠ تن وبى خان ومان ګرديدن صد ها هزار تن ديګر ګرديد .
اطلاعات حاكيست كه اين سيلاب ها وبارش شديد مناطق اطراف پايتخت وعده از مناطق ديګر را شديداً خساره مند ساخته ، منازل مسكونى وكشت وزراعت مردم را تخريب نموده است .

دپكتيا اوپكتيكا ولايتونو دنظامى شورى اعلاميه

په اتم مخ

دعراق صدر اعظم له خپلى دندى څخه ګوښه كړاى شو

بى بى سى دسنبلى ٢٤ مه :
دبى ، بى ، سى راډيو خبر وركړى چې دعراق صدر اعظم سعدون حمادى چې شپږ مياشتى دمخه په عراق كې دشيعه ګانو ترڅپلو وروسته لومړى شيعه صدراعظم ټاكل شوى وُ له خپلى دندى څخه ګوښه كړاى شو خبرونه وايى دغه پريكړه هغه وخت وشوه چې صدام حسين يو ځل بياد بعث ګوند مشر وټاكل شو دصدام حسين دبيا مشر تابه څخه سمدستى وروسته نومړى ددندى څخه ګوښه اودانقلابى شورا څخه وويستل شو .
خبر زياتوى دسعدون حمادى پرځاى حمزه الزبيدى دعراق دنوى صدراعظم په توګه ټاكل شوى دى .

داتربرديش محلي حكومت دبابري جومات دشهيدولو پريكړه وكړه

په اتم مخ كي

سرمقاله

دجهاد هنداره دجهادپه ويارمنه لاره پخپل دوهم نشراتي كال پل ږدي

الحمدلله دادى جهادهنداره پرخپل دوهم نشراتى كال پيل كوى،پوره يو كال وړاندې دسنبلې دمياشتې په ١٥ مه دجهادهندارى جريدى ړومبۍ ګڼه چې دستر مجاهد الحاج مولاناجلال الدين حقاني په پيغام ښكلى شوى وه زموږ دبرميال انقلاب دجهادى مطبوعاتوپر آسمان وځليده،ددغه جريدى چلوونكو او اړوندو منسوبينو په همغه لومړۍ ګڼه كې له خپل مجاهد ملت اودعزيز اسلام له سرښندونكو غازيانو سره ژمنه كړى وه چې ددوى جهادى كارنامى اوحماسى به دجهاد هندارى په غيږه كې خوندى اوابدى كوى ، جهادهنداره

په اتم مخ

٢ پوسته امنيتى رژيم همراه با ٣عراده تانك محاربوى تخريب ګرديد

ميدان شهر ، ميديا :
يك منبع جهادى به ميديا ګزارش داد كه مجاهدين ولسوالى چهاردهى ولايت كابل مستقر در اطراف ميدان شهر به تاريخ ٢١ سنبله طى يك عمليات مشترك وهماهنګ برپوسته هاى امنيتى رژيم در مناطق ابدره وقريه شهاب الدين واقع پل سرخ با استفاده ازسلاح هاى ثقيل و دوربرد ٣٠ نفر ازافراد نظامى رژيم را هلاك و ٢٢ تن ديګر را زخمى و ٣ عراده تانك برديم را حريق نموده اند .
راپور مى افزايد دراين عمليات دو پوسته امنيتى ويك دستګاه بى ام ١٣ دشمن تخريب ګرديده است .

هيلـه ده «دجهاد هنداره» دټولو مجاهدينو اوګرد ولس ترمنځ دوحدت دداعي په توګه دجهاد سنګرونو اوصفونو ته دوحدت پيغامونه ورسوي

(دجهاد هنداري دلومړي ګڼي دخپراوي په مناسبت دالحاج حقاني له پيغام څخه)

جهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني
دتائسيس كال : ۱۳٦۹ هـ ش

دروس - امريكا گډه موافقه اودجهادی ځواكونو غوڅ دريځ

سيدمحي الدين هاشمي

دافغانستان دقضيي دسياسی اواری په اړه سياسی هلی ځلی اوخبری اتری هغه وخت ډيری تودی لاپسی چټكی شی چی مجاهدين ددښمن پر مركزونواو پوځی تاسيساتو باندی دګډو اوسرتاسری حملو لپاره پلانونه طرحه اوپوی موافقی ته ورسيږی ، داسلام اومسلمانانو دښمنان چی په افغانستان کی دمجاهدينو په لاس ديو اسلامی حكومت له جوړيدو نه سخت په ويره کی دی او حتی هغه ځان ته ديو ستر خطر او چلينج په توگه گڼی،خپلي ټولی شيطانی دسيسی ، توطيی اوشومی هلی ځلی دی ته متوجه کوی چی هلته اودلته دافغانستان دقضيي دسياسی حل وفصل په تمه زموږ مومن وگړی اغفال،دجهاد په سنگرونو کی سرښت او دمجاهدينو په ليكو کی دبی اتفاقی اودكمزورتيا روحيه رامنځته کړی .

دافغانستان دقضيي دسياسی اواری دهلو ځلو په لړ کی دملگرو ملتونو دسرمنشی دپنځه فقريزه طرحی په تعقيب په اسلام آباد اوايران کی ددری اړخيزو خبرواترو لومړی اودويم پړاو تربی نتيجی پای ته رسيدو اوبيا كابل ته دملگرو ملتونو دسرمنشی ځانگړی استازی بيننديسيوان سفراو ورپسی ايران ته دملگرو ملتونو دسر منشی پريزديكويار سفراودهغی په ترڅ کی دايران اوپاكستان داسلامي جمهوريتونو دجمهورو رئيسانو ښاغلی هاشمی رفسنجانی اوغلام اسحق خان اودمجاهدينو دځينو ډلو له هيئت سره دافغانستان دقضيي دسياسی حل په اړه ليدنو-كتنو اوخرگندونو په تعقيب دتيری جمعی په ورځ دسنبلی دمياشتی په ۲۲ چی دسپتمبر له ۱۳ نيټی سره سمون خوری په مسكو کی دروس اوامريكا دبهرنيو چارو دوزيرانو پنكن اوجميز بيكر دليدنی كتنی په پای کی ديوی گډی اعلاميی په ترڅ په دی موافقه وكړه چی دراتلونكی ۱۹۹۲ كال له پيل څخه دافغانستان دقضيي دسياسی حل په منظور دافغانستان دجگړی دواړو خواو (مجاهدينو-اومزدور رژيم)ته دوسلو ليږل بنديږی اوداسی زمينه به برابروی چی دجگړی اور مړ ، دقضيي دسياسی حل وفصل لپاره لاره هواره اوافغانان پخپلو کی دانتخاباتو له لياری دحكومت جوړولو په اړوی موافقی ته ورسيږی .

داچی دااودی ته ورته سياسی هلی ځلی دڅه لپاره کيږی څوك پکی څه اوځومره لرغ او نژدی هدفونه لری ، چاته به يی څومره گټی اوڅومره ضررونه ورسيږی موږ دلته پری څه نه وايو داټول هغه مسايل دی چی دوخت په تيريدو اودحقايقو په رابرسيره كيدو سره پخپله ځواب كيدای شی .

خو تركومه چی مجاهدينو ته دوسلو په وركړی پوری اړه لری دافغانستان مجاهد ملت چی دكفر او الحاد پرضد جهاد پيل كاوه اودروس په څير ديو ستر الحادی ځواك په وړاندی يی دمقابلی ډگر ته ورداننگل دايی دچا دمادی موسو وسلو او وسيلو په تمه نه دی کړی ، مؤمن مجاهدين په تش لاس دايمان اوعقيدی په كارنده وسله دظلم ، فساد اوالحاد په وړاندی راپاڅيدل دلوی خدای (ج) په مرسته يی په هماغه لومړنيو عادی وسلو دروسانو اودهغوی له مزدورانو څخه دومره وسلی اووسيلی په غنيمت ونيولی چی هم يی پری ديرغلگرو روسانو مقابله وكړای شوه هغوی يی دشرميدلی ماتی په نتيجه کی له خپلی خاوری څخه تيښتی ته اړ يستل اوهم يی دهغوی مزدورانو له شر ، فساد اوناولو قدمونو څخه دهيواد ډيره زياته برخه آزاده اوهغوی يی په لويو ښارونو،پوځی مركزونو او تاسيساتو کی محصور اواوس داسی حال ته راوستی دی چی دخپل محتوم شكست دشيبی درارسيدو په تمه دذلت شپی ورځی سبا كوی .

كفری هيوادونه هيڅكله هم له مؤمنو افغانانو سره دجهاد په گټه مرسته نه ده کړی اوكه په افغانستان کی

په ۷ مخ کي

روسان دخپل كمونستي استعمار څيره بدلوي

عبدالوكيل

روسانو په دي وروستيو شپږو كلونو کي يو شمير اقتصادي ، سياسي اوټولنيزو بدلونونو ته دطرحه شوي پلان له مخي دخپلو گټو په نظر کي نيولو سره اقدام وکړ خو لكه څنگه چي په نظر کي وواورزو يي درلوده مثبتي نتيجي يي ترلاسه نكړای شوي دوی دكمونستي اقتصاد په چوكاټ کي يو شمير اقتصادي مؤسسو ته دپخوا په نسبت په توليدي پلانونو اوپه توليدپوري اړونده نورو اړخونو کي زيات استقلال وركړ .

خودي ډول اقتصادي اصلاحاتو دروسي كمونستي اقتصاد ناروغي لانوره هم زياته کړه په همدي ترتيب سره په سياسي اړخ کي هغه چي دروسي كمونستي امپراطوری تراستعمار لاندي ولسونو او ملتونو په استقلال اوحقوقو پوري اړه لري هم سياسي مانورونو ته اقدامات وشو روسانو دتبليغاتي وسايلوله لاري اواستعماري ځالو له منځه وړلو ته اقدام وکړ نو سم دلاسه دروسي استعماري پوځ په واسطه واړه ، زاړه ، ښځي او سپين ږيري په وينو کي ولمبول شول خو دپاسه يي دغو مظلومو ملتونو ته داستقلال وركولو ناري سوري لانوري هم زياتي کړي اوپه دي اخيرو کي يي ظاهراً دبالتيك بحيري خيرمه جمهوريتونوته (ليتوانيا ، استونيا ، لتويا) خپلواکی وښله خولاتراوسه په نظامي اواقتصادي لحاظ نه دي مستقل شوي .

که چيري روسان خپلو هغو مستعمروته چي دوی پخپله خاوره پوري په مستقيم ډول سره تړلي دي دفدراسيون په بڼه په كورني سياست کي خپلواکي وركړي نو داځکه رښتيني خپلواك نه شي بلل كيدای چي دنظامي اقتصادي اوباندنيني سياست په اړوند په روسانو پوري

> که چيري روسان خپلو هغو مستعمروته چي دوي پخپله خاوره پوري په مستقيم ډول سره تړلي دي دفدراسيون په بڼه په كورني سياست کي خپلواکي وركړي نوداځکه رښتيني خپلواك نشي بلل كيداي چي دنظامي اقتصادي اوباندنيني سياست په اړوند په روسانو پوري تړلي دي.

تړلي خو كه چيري دغه څوارلس جمهوريتونه چي دسپيني روسي فدراتيف جمهوريت په ځان پسي تړلي دي خپلواکي وركړي اوبيايي دكنفدراسيون په ډول سره په خپله استعماري حلقه کي راگيرکړي اولكه څنگه چي روسان دواحد نظامي او اقتصادي سيستم غوښتونكي دي نوپه دي دوی تر استعمار لاندي ملتونو ته دآزادی او دهغوی دحقوقو داعاده كولو ناري سوري پيل کړي خوكله چي په اذربايجان کي اسلامي او په لتوانيا استونيا اويو شمير نورو جمهوريتونو کي آزادي بښوونكي جنبشونه راپورته شول اودواقعي خپلواکی دتسخير په نيت يي دكی ، جی ، بی دشيطاني صورت کي بيا هم دغه محكوم ملتونه په واقعي ډول سره اقتصادي اوسياسي خپلواکی نه شي ترلاسه كولی بالاخره كه چيري دغه جمهوريتونه دروس تر استعمار لاندي ختيځي اروپا هيوادونو ، منگوليا ، ويتنام ، لاوس ، كامبوديا ، كابل رژيم ... ته ورته په خپله استعماري لمن کي رانغاړي هم دتصور څخه وتلي كارندی په دي

> روسان هڅه كوي ترڅو داوسني نړيوال اقتصادي اوسياسي بهيرسره خپل استعماري پلانونه عيار اودولسونو اوملتونو داسارت اوزيښناك نوي لاري پيداکړي

صورت کي به ديوی خوا روسان په ملگرو ملتونو کي په پنځلسو طرفدارو هيوادونو برسيره پنځلس نورطرفدارهيوادونه چي په واقعيت کي ددوی مستعمري دي هم ولري اودبلي خوا به دروسانو دڅوند سطحي اندازه ددوی تراستعمار لاندي ولسونو په نسبت په دي نوم چي گڼي ددوی (روسانو) دكار اوفعاليت نتيجه ده لانوره هم لوړه کړي اوهم به نړی اوددوی تراستعمار لاندي ولسونوته وښيي چي گني دوي هغه پخواني ښكيلاكگرو اوزيښناكگر روسان نه دي .

كه چيري روسان دغرب پانگي او تخنيك ته خپلي دروازي خلاصوي نو داقتصادي اوتخنيكي لوړتيا په اړوند يي دځان لپاره په گټه بولي اوداكار به دغرب لپاره هم بي گټي نه وي خو دغرب په واسطه سره په روس کي اقتصادي ، اجنتوري اوسياسي نفوذ اودغي امپراطوری ړنگول اوترخپل تسلط لاندي راوستل په دي پوري اړه لري چي روسان په كومه اندازه اوكومه طريقه دغرب سره اقتصادي اوسياسي اړيكو ټينگول غواړي اوهم داچي کی ، جی ، بی تركومه حده پر ځان متكي ده نو سره ددي چي ظاهراً داسي ځرگنديږي چي روسانو بايللي ده خو داچي داوسني بهير اوددغي پروسي دڅوروالي څخه به روسان زياته گټه ترلاسه کړي اوكه غرب داخبره په پوره او مطلق ډول سره نه ده ځرگنده شوي.

په نتيجه کي بايد وويل شي چي روسان هڅه كوي ترڅو داوسني نړيوال اقتصادي اوسياسي بهير سره خپل استعماري پلانونه عيار اودولسونو اوملتونو داسارت اوزيښناك نوي لاري پيداکړي نو دافغانستان مجاهد او ننگيالی ولس بايد دروس اودهغوی پلويانو په هيڅ چل اودوكه باندي تيرنه وزي اودپخپل هيواد کي داسلامي حكومت دحاكميت اودخپلي اسلامي خاوري دخپلواکی اودروسي مزدورانو دبشپړي نابودی په خاطر خپل جهادي مورچلونه گرم ، ټينگ اودغه جهادي بهير تر پخوا لانورهم ځپاند کړي .

رژيم كابل به بهانه ديپوي هاي نظامي مجاهدين مناطق مسكوني درتالقان رابمبارد مي نمايد

اين مطلب را بينگت كريستنسون عضويك موسسه خيريه ساختمانی بين المللی برای افغانستان صبح ۲۳ سنبله در مصاحبه باخبر نگار ميديا در كميته سويدن اظهار داشته است .

كريستنسون كه در بمباردمان های اخير رژيم بر شهر تالقان مجروح شده وبغرض تداوی به پشاو امده است افزود : طی اين بمباران ها نديده است كه يك ديپوی مجاهدين هم تخريب شده باشد لذا يقين دارد كه سلاح ها در منطقه مسكونی ذخيره نشده است .

همچنان در ناحيه های بمباران شده كه بيشتر خانه ها وشفاخانه وجود دارد اگرد يپوی وجود ميداشت تلفات وخسارات بسيار زياد ميبود .

بينگت كريستنسون گفت : وقتی بمباران شروع شد دريك دره پايان رفته تاتوسط بی سيم ار حادثه بمباران به دفتر مربوطه اطلاع دهد كه يك سنگ در حصه چپ بدنش اصابت كرد لحظه بعد بمی بزمين فرود امد وبه تعقيب ان بم ديگری برسرك تصادم نمود وچند طفلی كه در انجا مصروف بازی بودند شهيد شدند .

وی گفت : مرابعد ابيكی ازشفاخانه های مجاهدين انتقال دادند شده وتحت تداوی قراردادند تا وناحيه مجروح بدنم خوب شد .

وی علاوه كرد ، دربمبارانی كه در ماه جولای صورت گرفته بود مردم شهر تالقان ازشهر فرار كردند اما با قطع ان دوباره عودت نمودند ورژيم نيز مجددا دست به بمباران زد .

وی از نظم مجاهدين منطقه در انتقال مجروحين به شفاخانه ها كه تحت سرپرستی قوماندان احمد شاه مسعود صورت گرفت ستايش كرد واز موصوف كه در شفاخانه ازوی عيادت نمود اظهار سپاس نمود .

دخوست ویاړمنه فتحه د قوماندانانو دسرتاسري شورا دفعالیتونو غوره بیلګه ده

مرکه کوونکي : محمد سرور قاطع

پوښتنه : محترم حاجي صاحب خبر شوی یو چي څه موده وړاندی مو جهادي سنګرونو ته سفر کړی وُ که دجهاد هنداری محترمو لوستونکوته ددغه سفراهدافو ، فعالیتونو اوبریالیتوبونو په هکله لنډ معلومات ورکړی خوښ به شو؟

ځواب : بسم الله الرحمن الرحیم

معلومه خبره ده چي جهادي سنګرونو ته تلل دخدای (ج) په لار کي دجهاد کولو اوملحدو دښمنانو له منځه وړلو څخه پرته نور څه نه دی ، دسفر په دی لنډه موده کي مي دلوی خدای (ج) په مرسته اونصرت دتوجه وړجهادی فعالیتونه ترسره اوبریالیتوبونه مي په برخه شوی دی.

دسفر په جریان کي مي لومړی په زرمت کي دخپل تنظیم دجهادی قوماندانانو سره دیو لړ جهادی مسایلو په هکله اوپه ګردیز باندی دعملیاتو په پروګرام بریالی خبری وکړی اوهم دزرمت دجهادی شوری په شمول ددریو نورو شوراګانو سره لکه په زرمت کي دپکتیکا ولایت شوری ، دغزنی ولایت په شوری اوهم دلوګر دڅرخ علاقه داری په شوری کي مي ګډون وکړ چي دخدای (ج) په فضل په ټولو شوراګانو کي دبرخه اخیستونکو لخوا په پوره توافق سره فیصلی وشوی .

کله چي دمیرانشاه څخه زرمت ته ورسیدم نو لومړی مي دخپل تنظیم قوماندانان راټول کړل ، فیصله مو وکړه ، چي ترټولو دمخه باید خپل سنګرونه اومورچی ددښمن په لوری نږدی کړو ، درنه سلاح اونور ضروری مهمات به په تعین شوو ځایونو کي ځای پرځای کړواوهغه ماینونه چي ددښمن له خوا دمجاهدینو دوړاندی تګ دمخ نیوی په غرض په لارو کي ایښودل شوی دی لری کړو کله چي دعملیاتو موقع راورسیږی دپروګرام په اجرا به پیل اواقدام وکړو دچریکی عملیاتو په باب مو هغوی ته هدایت ورکړ که چیری زموږ دچریکی عملیاتو مجاهدینو له خوا اهداف صحیح اوپه ښه شی توی کولای شی دتوپونو اوراکټونو انداختونه ترسره کړی .

همدارنګه دپکتیکا میلمنه شوری سره چي زرمت ته راغلی وه او موږ سره په منطقه کي برخه لری ، په ګډه مو شوری جوړه کړه ، اوپه ګډه مو پریکړه وکړه چي باید دزرمت دجهادی شوری اودپکتیکا شوری ترمنځ یو خط معلوم وی پدی ګډه شوری کي مو یو استقامت دزرمت دجهادی شوری اوبل استقامت مو دپکتیکا شوری لپاره انتخاب کړ، پدی شوری کي موږپریکړه وکړه چي په ګډه سره به په ګردیز باندی دعملیاتو لپاره لومړنی سنګرونه ونیسو او پرمخ به لاړشو ، اوبیا به دګردیز دشاوخوا پراته دنورو شوراګانو سره ارتباط ټینګ اوفوراً عملیات پیل کړو په همدی ډول ددرنګ په استقامت دتیری ترکنډو پوری دمولوی صاحب نصرالله منصور دمجاهدینو اوزموږ دخالص صاحب داسلامي حزب دمجاهدینو په شمول سیمی تقسیم اوهدفونه مو تعین اوتثبیت کړل په ګوته شوو ځایونو ته مو مجاهدین ولیږدول اسلحی مو انتقال کړی او سنګرونه مو ونیول چي داټول په ګډه سره وشول .

پدی ترځ کي زموږ دتنظیم چریکی قوماندانانو خپل یو لړ بریالی عملیات په ګردیز اونوربرخو ترسره کړل ددی عملیاتو له امله په اوله ورځ دوه موټری اویو اوبوس توپ ، په دوهمه ورځ یوه دانه شلکا اویو صحرایی توپ اوپه دریمه ورځ هم یو شلکا اویو صحرایی توپ دسروړی په پوسته کي له منځه یوړل اوپه څلورمه ورځ یو ټانګ دسروړی پوستی ترڅنګ تخریب اوله منځه ولاړ ، چي داوړ بریالیتوب زموږ دتوپچی مجاهدینو په برخه شو ، چي دابوس توپونو په واسطه ترسره شوی وُ .

پنځم ځل دغروړ ددرنګ په استقامت کي دکابل رژیم دیوی جنګی هلیکوپټر رانسکوروُل وُ کوم چي دمحمد حسین مجاهد په واسطه دستنګر میزایل په استعمال سره ځمکی ته ولویده ، چي د١٤ تنه عملی سره داوړلمبه شوه ، وروسته له دی پیښی ډیر ژر درژیم جیټ جنګی الوتکی دانتقام په غرض راورسیدلی چي ترماښامه مقابله روانه وه ، دهمدی مقابلی له امله زموږ دمجاهدینو څخه یو تن عادی ټپ هم وخوړ ، بیاهم زموږ مجاهدینووکولای شول چي دهلیکوپټر دری تنه عمله ځانه سره واخلی اوڅلور نور دخاورو لاندی کړی دباقی مړو سوی جسدونه دکابل څخه دلیږل شووجیټانو اوهلیکوپټرو په واسطه اوچت کړای شول .

کله چي غزنی ته ولاړم اودمجاهدینو په شورا کي مي برخه واخیسته او دشوری دبرخه والو سره مي دغزنی په پروګرام باندی خبری وکړی چي باید دغزنی لپاره دګډو عملیاتو پروګرام جوړشی اوهم دشوری برخه والو له ماڅخه غوښتنه وکړه چي دغزنی په عمومی عملیاتو کي له موږ سره برخه واخلی ماهم دغزنی شوری سره په غزنی باندی دعملیاتو پروګرام کي دشرکت غوښتنه ومنله او دعملیاتو سیمه یی راته هم انتخاب کړه .

کله چي دلوګر ولایت ته ولاړم

په ٦ مخ کي

> دمجاهدینو توکل پرخدای (ج) دی موږ دجهاد دهمغه لومړیو ورځو څخه دخپلو عملیاتواوپروګرامونو په عملي کولوکي توکل پرخدای (ج) کړیدي.

دیوی سالمی اسلامي ټولنی دجوړښت توکي

مولانا عبدالمجید

دجامعی جوړښت دانسان بدن سره شبیه دی لکه څنګه چي دانسان بدن دمختلفو ارګانونو څخه رغیدلی اوهر ارګان دمتعددو انساجو څخه جوړشوی اوهر نسج دیو بل ته ورته حجراتو څخه جوړشوی دی په همدی ډول دجامعی دافرد و پیوستون یو دبل سره مقایسه کیدای شی په یوارګان کي هغه غړی سره راجمع وی کوم چي یو بل ته دنږدی وظیفی ترسره کوونکی دی داغړی خپلی ورسپارل شوی دندی ترسره کوی کله چي کوم غړی خپله ورسپارل شوی دنده په سمه توګه ترسره نکړی حتمی ده چي څه عارض به ورته مخی ته شوی وی اوبا الفرض که بدون دعروض دعلت څخه یی خپله وظیفه ترك کړی وی نو نوموړی غړی دمذکور ارګان داعضاوُ څخه نشی شمیرلی اودیو زیاتی بیځایه بوج څخه به نور څه حیثیت ونلری اما حقیقت دادی چي هیڅ یوه حجره دانسان بدن کي فضول نشته څه لایو غړی.

دغه مختلف اندامونه دیومشترك هدف دترسره کولو لپاره کار کوی اوهریو دخپل توان په وفق دنده اجرا کوی چي په دی ډول دانسان ژوند تیریږی اودانتهایی سرحد په لور په خوځښت وی دبدن په هره یوه نقطه چي څه سهولت راځی ټول جسد ورڅخه ګټه اخلی اوکه کومه صدمه ورته پیښیږی ټول بدن پکی سهیم وی ځکه چي ټول اندامونه یو بل سره نږدی پیوستون لری اویو دبل څخه په هر حالت کي جدی تأثر اخلی که هغه مثبت وی اوکه منفی .همدغه ډول داسلام ددین له مخی دټولنی جوړښت دی ترڅو پوری چي یوه سلیمه جامعه داسلام ددین دعلمی حقایقو په رڼا کي نه وی رامنځ ته شوی بله هرډول ټولنه چي جوړه شی دانسان دانسانیت دلوړ حیثیت ، شان ، وقار اودبدبی ارزښت نشی پیژندلای ، اودتحقق رازیی هم نشی په ګوته کولی اودغمونو ، دردونو مصیبتونو ، بی عدالتیو ، تشتت ، خپل سریو ... څخه پاکه اجتماع نشی ثابتیدلای ، ځکه دغیری اسلامي ټولنو عقیدوی ، تیوری کوم بنسټ نلری خیالی متزلزل نظرونه اوفکرونه دی .

په همدی اساس کله چي دانسان په بدن باندی کوم اجنبی عامل حمله پیل کوی باالفور دبدن ټول ارګانونه تنبیه کیږی اوخپل خپل مسؤلیت سرته رسوی ترڅو بدن ته دخارجي عامل تخریب څخه نجات ورکړی داډول باید دجامعی دافرادو حالت اودریځ وی نوکه دجامعی هرفرد داسی حساس انداز سره خپل عمل دشرعی اصولو او قوانینو مطابق ترسره کړی نه یواځی داچي ټولنی ته به دخپل موجودیت ارزښت ثابت کړی بلکه ټولنه به دممکنو افتونو دبروز څخه وساتل شی اودهغه مصیبتونو اوکمیو څخه به هم وژغورل شی کوم چي دغیر مهذبو افرادو په وسیله ټولنی ته راجع کیږی .

اوطبیعی خبره ده کله چي ټولنه مصئونه شوه افراد پخپله مصئون کیږی ځکه هرفرد دنوری ټولنی په نسبت دیو جز حیثیت لری اودجز او کل ترمنځ دتاثر روند ډیر جلت او حساس دی .

اوس که دجغرافیایی مشخصی منطقی خلك یاپه رښتینی ډول ټول مسلمانان داغواړی چي یوه داسی جامعه ورغوی چي هیڅ نوع تشتت ، انحطاط زورزیاتی ... دی پکی وجود ونلری اودممکنو اجتماعی آفاتو څخه دی عاری وی نودی خلکو ته ښایی دشریعت په رڼا کي داسی نقشی څخه استفاده وکړی چي په ټولنه کي اوسیدونکی ټول انسانان خپل مناسب حق ترلاسه کړی او ورته لازمه ده چي خپل مسؤلیتونه حساس درك کړی اوپه مناسب وخت مناسب عمل اجرا کړی ترڅو خلك دمشکلاتو څخه بری شی اودارتقا په لور قدم پورته کړی .

چي دانوع دمسؤلیت پیژندنی اومسؤلیت سرته رسونی ژوند داخرت لپاره هم ښه باارزښته دی نو دیوی خوا به ټولنه په دنیا کي ددنیا دلذائذو څخه مالامال شی اودبلی خوابه په عین وخت کي داخروی ژوند لپاره ښه توښه جوړه کړی دانسان دانسانی کرامت غوښتنه همدغه ده چي انسان دی هغه څه وکړی چي دانسان ژوند تامین کړی اودهر نوع تهدید څخه یی مخ نیوی وکړی.

(په اسلامي جامعه اونږی کي اوس یو څه انسانان داسی هم راپیداشوی چي ناخود اګاه هغوی اسلام دسیاست اواصلاح څخه جدابولی اما داخبره دناپوهی څخه نور څه شی نه دی دسیاست موضوع ډیره پراخه موضوع ده نو ځکه به ورڅخه دلته صرف نظر وکړو) اما واقعیت دادی چي سیاست داسلام داحکامو څخه یو حکم دی نو اسلامیون دسیاست خاوندان دی او اصلاح اوسیاست دمسلمانانو کاردی که نوره دنیا کي خلك دسیاست نوم ذکر کوی دمسلمانانو څخه یی یاد کړیدی .

اوپه ځانګړی توګه سیاست داسلام ضدو خلکو پوری اړه نلری .

« نوربیا »

> په اسلامي جامعه اونږي کي اوس یوڅه انسانان داسي هم راپیداشوي چي هغوي اسلام دسیاست اواصلاح څخه جدابولي اما داخبره دناپوهي څخه نورشي نه دي

جهادی ادب

دیــــــر کســــــان دي تلـــلي پســـي تـــــلـــلي
پــــاتي شـــوي بـــــي نــــــه نښـــي دي نه كلي
خـــــوچـــــي لار دشهـــادت يـــي ده نيـــــولي
ابـــــدي يــــي دي پـــري ايــښـــي دنـــــور څـــلـــي

دابه نن سبا آزاد شي

ملااسد الله حنيفي

داجگ غرونه گړنگونه
دامورچل دامورچلونه
له پامير نه راجگ شوي
داڅپاند ځپاند سيندونه
له آمو نه ترهلمنده
داپراخ پراخ ډاگونه
له واخانه ترميونده
داخاورين خاورين كورونه
له شيرخانه ترېولدكه
چې ميشته دي ولسونه
له كوكچې ترهري روده
داڅپاندڅپاند موجونه
دابه نن سبا آزاد شی
رالنډ شوی منزلونه
دكمون جرړي وچيږي
خوځيدلی دي ميرونه
دسبا سترگه راخيږي
رڼا شوي تورتمونه
وروستي منزل ته وروره
رسيده دي كاروانونه
دالحاد خونه شوه ورانه
نړيدلي يې برجونه
دابرگشت دزماني دی
نور پوره دي تاريخونه
نوربه عدل الهي وي
ښكته پورته په ملكونه
نه به ظلم نه وحشت وي
نه ښكيلاك نه تاړاكونه
نه به زور وي نه زياتی وي
نه يرغل اونه بريدونه
تول قانون به دقران وي
واوره غوږشه داپندونه

درد

عوض الدين صديقی

ماخو تولوته دمحبت غيږ پرانستله، دهريوه په غمبوری می ديوه مهربان پلار په شان شونډی ښخی کړی، دهريوه پر سر می دتسلی اوډاډ لاس راكش كړ، جلا جلا می دهغوی دحال پوښتنه وكړه، دزړه خواله می ورسره وكړه ځان می ورسره پغم اودرد شريك وگاڼه هغه يوه ته خو می اوښكی هم دسترگو په كيسو كی ډنډ شوی، څومره بده صحنه وه، پښه اولاسونه يی بم تری غوڅ كړی وو، خو په څيره كی يی دعظمت اوميړانی نښی نښانی له ورايه ښكاريدلی، يوه باتور په شان يی سرهسك نيولی وو دلته ډير ودرديدلم، خو دادرد دهغو دردونو زيرنده وه چی دهيواد دشملی دلوړی ساتلو په لاره كی يی غاړی ته لويدلی ؤ دی درد ترشا وياړونه لرل، خو درد دغه ؤ چی له انسان څخه يی غوښی دمنی دپاڼو په شان رژولی، دی ته می هم زړه غوښتل وگريږم ددی درد ترشا دډيرو تراژيديو رازونه پټ وو ددريو، څلور كالو به وه دسرك پرسريی نڅا او سندری بللی، ما وی لكه چی دچا په اشاره می پر ټپونو مالگی دوړوی دوه دری ځلی می غاښو نه ورته وچيچل نورڅه می نه شوای كولی، داډير دروند غم ؤ، ددی درد ترشا می دنيكونو تاريخونو ته دكفن وراغوښتلو صحنی وليدلی، په دی درد كی می ديوه استعمار څخه دبل استعمار غيږی ته دورلويدو نښی وليدلی، يوه وركوټی ماشومه اوپه داسی ډول نڅيدل تاسو ومنی چی دادبمونو له باران څخه موږته زياته ويرونكی ده دابه موږ دتباهی پرپوله دروی څكه ده چی الفت صيب وايی:

كه هرڅه رانه وژنی خيال اوفكر می مه وژنه

په دی كی می وطن ته لوی تاوان ليدلی دی

تکل

بوډا زنداني

احمد سينا «احمدي»

هغه يی دتودی جگړی په ميدان نيولی ؤ، په داسی ميدان چی ډير پوځيان يی په خپلو وينو لمبولی وو، تول گروپ يی له سهاره ترمازديگره جنگيدلی ؤ خوچی مازديگر مهال يی گولی تولی خلاصی شوی وی نو دښمن ورته راوړاندی شوی ؤ، كه يی پر بدن څلور گولی نه وای سړی شوی نو خدای (ج) خبردی چی بيابه هم ددښمن لاس ته ورغلی ؤ كه نه! خواوس هغه په داسی حال كی دسرو پوځونو په منځ كی ؤ چی ساه يی له بدن نه دوتو او پاتی كيدو په كشمكش كی وه، كله كله به يی پرسينه درانه بوټان حس كړل، په وليوبه يی كونداغونه ولگيدل نامانوسی كلمی به يی واوريدی اوچی سترگی به يی وغړولی سره سره پوځيان به يی وليدل چی تری چاپيربه وو اوپه غوسه غوسه به يی ورته كتل، په لاس اوپښو دڅلورو ژورو ټپونونه يی وينی روانی وی، خو هغه لادژونديو په دنيا كی ؤ لږ وروسته يی دښه څند لپاره له محسوسی نړی سره اړيكی وشليدلی اوچی سترگی يې وغړولی، لاس يی شاته كلك تړلی وو اوپه يوه غمجن غولی پروت ؤ.

بسم الله زر زر تيری پيښی ورپه ياد كړی، په دی نه پوهيده چی څومره وخت به په **دغه حال وربياندی تيرشوی ؤ** خو دبدن څو ځايونو يی مرگونی څړيكی كولی، دتيری جگړی جريان يی سترگو ته ودريد، اوبيا دخپلی موراوخويندو يادونو دپريشانيو يوه درنه څپيره پرمخ وركړه، تندی يی تريو شو، خو بيرته سمدستی لكه چی څوك څه دخوښی زيری وربياندی وكړی خوشحاله شو شونډی يی ورپيدی:

خدای (ج) دی دټولو مل شی، يی ترخوله ووتل اوبيا يی خپل سردېښو خواته ځوړند كړ ...

بسم الله جان ديوی نامرادی كورنی تنكی زلمی ؤ، پلار يی ملااسد كاكا دكودتا په لومړی كال په يوه مخامخ نسته كی دحكومت قواو نيولی ؤ چی بيايی دمړی اوژوندی پته نه وه لگيدلی اوچی كله دده پر پاس شونډه دځوانی نيالگی رازرغون شول نوسمدستی يی دپلار دكسات اخستلو لپاره دجهاد توپك غاړی ته كړ اودادی نن له يوی اوږدی اوستړی جگړی نه وروسته ټپی ددښمن په لاس كيوتلی، اوس به څه كيږی؟

داهغه پوښتنه وه چی هره شيبه يی په ذهن منگولی ورلگولی، هغه دزندان په باب ډير څه اوريدلی وو اوبيا دداسی چا په حق كی چی وسله په لاس نيول شوی وی، خو نور هغه ځان هرڅه ته تياركړی ؤ، په سترگو كی يی دداسی ارادی ځلاوه چی غرونه يی اوبه كولای شول، اوهمدغی ارادی هغه ته بيا ژوند وركړ ترمرگ بدی شپی ورځی يی تيری كړی اوبيا په يوه توره شپه كی په يوه **سرپټی موټر كی دڅرخی پله** زندان ته ورسيد، بسم الله جان ډيرو بيخوبيواوځور ډير بی سده كړی ؤ اوچی څنگه يی دزندان په كوټه ورننويست بياديوه ديوال خواته په خواږه خوب لويدلی و، يووخت چی سترگی غړوی گوری چی يو سپين ږيری بندی يی سرته ناست دی، دسپين ږيری بندی دسراوږيری ويښتان تك سپين دی داسی سپين لكه سپينی وړی، دمخ په كاسه كی يی دگونځو شمار نشی كيدای، بدن يی له كمزوری نه لړزه كوی اوبيا همدلته هغه دبی دينو كمونستانو پر بی رحمی او سخت زړيتوب حيرت كوی، اخردابوډا اوزندان!

بسم الله جان بوډا ته په نرمه لهجه وايی:

پلاره ته يی په څه تور نيولی يی؟

داڅومره بی رحمه خلك دی ته خو ډير كمزوری يی!

بوډا دبسم الله جان پر سر درحم اومينی لاس راكشوی اوبياوايی:

زويه زما كيسه اوږده ده!

بسم الله جان سپين ږيری ته

پر۵ مخ كي

شكستيم!

مادشمن بيدين وجفا كـارشكسـتيم — ان قـدرت مـردود ستمگار شكستيم
باقوت ايمان شديم عـازم جـبهــه — گشتـيم وروان فرقه تـزار شكسـتيم
باروح پر ازعشق همه درصـف پيكار — بادست تهی دشمن خونخوار شكستيم
ازسنگر اسلام وجهاد وصف مرصوص — طـومار طلسـم هرمردار شكستيم
لينن بشكستيم وسپس ماركس وانـگلز — درحـول جـهان منبع ازار شكستيم
ازيمن فيوضات جهاد وسـعی مـا بود — كـان پيكـر مردود جفا كار شكستيم
گلگون بشد دشت وطن خـون شهيدان — ديـوار دو المـان رابه يكبار شكستيم
زندان شكستيم وطلايی قفـسش را — ماچوپـه شكستيم ولب دار شكستيم
امروز جهان شاهد بی نظمی روس است — مارونـق شـان برسر بازار شكستيم
نيازي ببال انچه دلت خواست چنين شد — كـان دشمـن بـد كاره مكار شكستيم

محمد ياسين نيازی

دخوښيو پيغام

پرديس

دخالد (رض) توره ده څرخيږی لات منات ماتوی
بياغزنوی راولاړيږی سـومنـات ماتوی
ډيوی دوينـو بلوی، څلی دنور دروی
خـوری شغلی دی چی غځيږی ظلمات ماتوی

***

راغـورځوی به دستـم اواستكبار برجونه
زموږ ولـس خودغه عـهد اوتړون كړی دی
نوردپرديو مـزدوران دلتـه زغملـی نشی
مومن افـغـان دغه تكل ان له پرون كړی دی

***

زمـوږ بريمنه قافله به پر مخ درومی وړاندی
كـله فرنگ كله به روس غوندی طاغوت ماتوی
رغنـدی چيغی دتكـبير موبی تاثيره نه دي
پر نړی خوردغـه غمجن غوندی سكوت ماتوی

***

ربه! ته يی مل شی چی خدمت ستادقران وكړی
غـازی افغان دغيـرتونو په لار گام ايښی
خاونـده! وساتـی دتادحقی لاری سپاهيان
مكـار غليـم ورته په لاره كی پټ دام ايښی

***

پوهيـږم رابه وړی نـړی ته دخوښيو پيغام
داغيـرتيـان كه دچالومو كی اسير نه شی
دمستـكـبرله زولنو نه به جـهان خلاصوی
كه صداقت يی بـس دخپلو پښو زنگير نشی

په تیر پسی :

له اندری څخه وپوښتل شول چی ته سه ازاد یی او تهوله ورځ سگرت څکوی ایا په روسی کی هم بندیان دادول ازاد وی ؟
هغه وویل :
دروسی په باب ماته معلومات نشته؟ خو مجاهدین له هغوی څخه ښه برخورد لری اودضرورت هرشی بندی ته پیداکوی ».
مجاهدینو چی اندری دکومو دوو تنو روسی پوځیانو سره اچولی هغه دواړه مسلمان شوی خو هغه اوس هم مسلمانیدل نه غواړی خوکله چی دهغه څخه وپوښتل شول روسی ته بیرته تگ غواړی ؟
هغه وویل :
زه روسی ته بیرته تگ نه غواړم ؟
دنه تگ وجه ؟
هغه وویل :
بس زما زړه نه غواړی چی بیرته لاړ شم .
ښایی چی اندری به یا دروسی له جاسوسی اداره.کی ، جی ، بی.څخه ویریږی اویا به هغه ارام ژوند پریښودل نه غواړی کوم چی مجاهدینو ورته مهیا کړی .
کاسلوف ویلیایورویچ :
زما نوم«کاسلوف ویلیایورویچ »دی ، کورمی دماسکو څخه ٦٨٤ کیلو متره لری دغرب خواته د پنزانومی ښارکی دی ، په کوم کورکی چی اوسیږو دهغه نمبر ٤٦ دی اوداکور گرسیکا نومی کلی ~ کی موقعیت لری پلار می انجینر دی اومور

موږ په افغانستان کې څه ولیدل ؟

په افغانستان کي دنیول شوو روسي عسکرو خاطري

دمسلم ژباړه

می په یوه مغازه کی کارکوی ، ترلس کالو پوری ما دپنزا ښارپه ٤٧ نمبر ښوونځی کی زده کړه وکړه ترهغی وروسته دپولی تخنیك انسیتوت ته داخل شوم په دی ځای کی زما یو کال نه وه پوره شوی چی پوځ ته ددندی سرته رسولو لپاره وغوښتل شوم داداپریل میاشتی یوه ورځ وه پسرلی پیل شوی و سرمعلم زه خپل دفتر ته وغوښتم او له ماڅخه یی پنځه دپاسپورت په اندازه عکسونه وغوښتل زما دپوښتنی په ځواب کی هغه وویل په اداری کی دنوم ثبتولو په خاطر عکسونو ته ضرورت دی خو حقیقت ددی پر عکس ووت ،

> ښځي دمرگ په سترگو کي سترگي ښخي کړي توره يي نيغه کړه اودکور په دروازه دروسانو دننوتلو دمخنيوي په خاطر ودريده تردي وروسته ماوليده چي هغي په وينو کي تړپکي وهلي

زه ویلی شم چی په روسیی کی ددلایل ویلو او پوښتنی حق نشته هلته به امر دځنډپرته منی دسرمعلم په دفتر کی دعکسونو ترتولولو وروسته هلته څو پوځیان راغلل غالباً چی هغه داپریل ۲٤ وه ، دادپوځ ورځ وه دلته زما نوم یی دپوځیانو په ډله کی ولیکه او ماسکو ته یی دځان سره بوتلم ، تردی وروسته یی زه دنورو ملگرو سره دلیتوانیا ساحلی سیمی

یوه پوځی مرکزته ولیږلم په دی ځای کی دلس زرو څخه زیاتو خلکو په بیلابیلو برخو کی زده کړی کولی دروسانو سربیره دلته دافغانستان ویتنام او ختیځی اروپا څخه هم خلك راتلل ، زه یی دالوتکو ضد وسلو چلولو په ډله کی شامل کړم ، تر اتومیاشتو زده کړو وروسته یی ماسکو ته ولیږلم هلته دلنډی دمی وروسته زموږ منزل دفرغانی سیمه وه له دی ځایه د۱۹۸۱ کال ددسمبر په ۲۷ مه موږ دای ، این ۱۲ الوتکی په ذریعه افغانستان خواته روان شو زموږ الوتکه دبگرام په هوایی ډگر کی راکوزه شوه زموږ دالوتکو ضد وسلو چلولو تولی ته دهوایی ډگر ددفاع چاری ورو سپارلی شوی اوله موږ مخکی چی چا دانده سرته رسولی وه هغوی په همدی الوتکه کی بلی خواته ولیږل شول .

مادزده کړی په دوران کی دکمونیزم سره کومه خاصه دلچسپی نلرله اودنه کمونستانو دځوانو ډلی غړی وم په دی خاطر یی ماته په پوځ کی دیوه عام غړی دنده راکړه اوکومو ځوانانو چی له ماسره یو ځای زما په رشته کی زده کړه کړی وه دهغوی ځنی له ماڅخه لوړی رتبی کی اوځنی ~ زموږ صاحب منصبان هم شول ، دبیلگی په ډول یو تن چی «صادقنوف »نومیده دشپږ میاشتی زده کړی وروسته پرموږ تورن مقرر شو ، دهغه زده کړه له ماکمه وه خو په دی خاطر چی هغه دځوانو کمونستانو دتولی غړی ؤ دهغه سره داډول برخورد وشو ، زه پردی بی انصافی اعتراض نلرم ، حتی زما هیلی داسویلو په بڼه شونډو ته هم نه راځی ، په سینی کی چوپی دی خو حقیقت دادی چی دابی انصافی دکمونیزم دبقا ضامنه ده ،

په کومه ورځ چی په روسیی کی دمذهب اونظریی دامتیاز پرته خلکو ته دندی وروسپارل شوی په هماغه ورځ به کمونیزم تهوتی ، تهوتی وی بیابه خلك دکمونیزم سره دلچسپی نلری حقیقت دادی چی کمونیزم په ننی نړی کی پر انسانیت لوی ظلم دی.

دبگرام په هوایی ډگر کی چی زه دالوتکو ضد کوم تولی کی دیوه پوځی په بڼه شامل کړای شوم دهغه نمبر ۳٤٥ وه اوپه هغه کی دولس سوه پوځیان اوصاحب منصبان شامل و زموږ دنده دهوایی ډگر دهغه پوځی پوستو اوالوتکو ساتنه وه اوکله ناکله به دمجاهدینو پر خلاف جگړی ته هم لیږل کیدو دری ځلی می په دی ډوله جگړو کی برخه واخیسته ، زه به دادری جگړی له یاده ونه باسم اوربښتیا داده چی همدی پیښو زه دروسی پوځ څخه تیښتی ته مجبور کړم دهغوی جریان داډول دی .

۱– لومړی ځل یی دمحمود راقی سیمی ته ولیږلم ، محمود راقی ددی ولایت دوهم لوی ښار دی ، روسی پوځ پر تهولی لاری اور وراوه اوبالاخره موږ یوه ورکوتی کلی ته ننوتو چی لږ خلك موجود ؤ، دکلی زیاتو خلکو کلی پریښی واوتیښته یی کړی وه ، روسی پوځیانو دخلکو سره داسی برخورډوکړ چی دهغی له وجی زما په زړه کی دخپل قوم سره مینه ورکه شوه داتو، لس کلونو یو ماشوم اوس هم زما سترگو ته دریږی ، هغه چغی وهلی څوك زما مور اوخورته لاس ورنه وړی پوځیانو دماشوم داراملو هڅی وکړی خو چی هغه په هیڅ ډول چوپ نه شو ډزی یی پری وکړی ، دڅو دقیقو وروسته ما ولیدل چی دری ژوند یو هلته دچرگو په شان تړپکی وهلی دی حالت زه بی خوده کړم . دی ښځواوماشوم څه گناه نه وه کړی ترڈی وروسته زما دقوم زړور!! پوځیان پر مخ لاړل هغوی دموراولور له غیږی دطلاو غاړکی راپری کړی دکورله پلټهلو وروسته یی یو ټیپ هم پیداکړ ، ما په راتگ کی له یوه ملگری وپوښتل :

«په دی کور کی ددریو تنو له وژلو موږڅه لاس ته راوړل ؟
«ددوسو روبلو په اندازه زیورات اویو ټیپ »
دادهغوی ځواب ؤ ، له ماڅخه ضمیر په تهولی لاری کی پوښتل :
«ایا دانسان قیمت له سلو روبلو څخه هم کم دی »

۲– په دوهم ځل عملیاتو کی یوه کور ته دری روسی پوځیان ورننوتل ، یوی دیرش کلنی ښځی دهغوی دننوتو مخنیوی وکړ دهغی په لاس کی ورکوتهی توره وه یوه پوځی تفنچه په لاس کی ونیوه اودحملی په ډول پری ورغی هغه فکر وکړ چی ښایی ویار شی اوتوره وغورځوی خو هغی زړوری ښځی دمرگ په سترگو کی سترگی ښخی کړی توره یی نیغه کړه اودکور په دروازه کی ودریده ترډی وروسته ما ولیدل چی هغی په وینو کی تړپکی وهلی اودری واړو پوځیانو پری ججوری خالی کړی هغه زړوره ښځه دکور په انگړ کی ولویده ، بیانو روسی پوځیانو په ویره ویره دهغی جسد دباندی وغورځاوه اودکور پلټهل یی پیل کړل یواځی یوه ورکوتی راډیو یی پیداکړه یوه روسی پوځی هغه راپورته کړه ، په دی ورځی چی مادانسان دوینی بیی ارزانی ولیده له ځان څخه می کرکه راغله .

کرکو یی پر روسانو لاړی توکولی ، په دی ورځ ماته معلومه شوه چی دافغانستان خلك څه وردمشکلاتو ډك ژوند لری اوخپله ازادی په څومره گرانه بیه لاس ته راوړی ، په دی ورځ زه وپوهیدم څوك چی موږ:اشرار !! بولو هغه په حقیقت دازادی لاس ته راوړلو په لاره کی هلی ځلی کونکی افغانان دی تردی وروسته زه فکراً دپوځ څخه تیښتی ته چمتو شوم اودمناسبی موقع په لټه کی شوم .

د۱۹۸۲ کال دفبروری په ١٤ سهار وختی کله چی په مرکز کی تول ویده و ماخپله وسله راواخیسته اوچوپ راووتم ، دځان سره می ویل که څوك راڅخه وپوښتی یامی وگوری نوزه به ځان ورته پهره داربنیم ، خو کله چی دمرکز څخه ووتم تگ می گړندی کړ ، دنږدی کلی خواته می مخه کړه ، کلی ته لږه فاصله پاتی وه چی چاپه لوړاواز ماپسی غږونه کول .

ودریږه لاسونه جگ کړه !
په دی خاطر چی غږ کوونکی په روسی ژبه غږ وکړ ما فکر وکړ چی ښایی دروسانو گزمه ماپسی راغلی وی خو سمدستی راته ثابته شو چی داسی نده ، دځوانو مجاهدینو یوی قوی ډلی محاصره کړم ، هغوی ماته امر وکړ چی وسله پر ځمکه

> روسي پوځيانو دخلکو سره داسي بدبرخورد وکړچي دهغي له وجه زما په زړه کي دخپل قوم سره مينه ورکه شوه

۳– یوروسی پوځی ۷۰ کلن سپین ږیری ونیوه اوخپل صاحب منصب ته یی راوست دهغه څخه یی پوښتنی پیل کړی او بیایی په متروکو وواهه سپین ږیری بوډا څو ځلی ولوید .

خوپوځی به هغه له کالیو یاله ږیری راونیوه اوبیرته به یی ودراوه بیابه یی پوښتنی تری پیل کړی خوهر ځلی به دهغه همدایو ځواب ؤ زه دقوماندان نیازی په باب معلومات نلرم

بالاخره روسی صاحب منصب له ملاتفنچگه راواخیسته اوتولی گولی یی دسپین ږیری په خیټه کی خالی کړی کله چی هغه خیټی ته لاسونه واچول اوپر ځمکه ولوید په سترگو کی پټهو

کیږدم ، ماپه ډیری خوشحالی دهغوی امر ومانه ، اوس نو زه تردی وروسته روسی پوځی نه ، دمجاهدینو بندی وم ، زه پردی متیقین وم چی بندی کیدل دروسی پوځ غړی کیدو څخه غوره کار دی ، مجاهدینو ماته دیوه لنډ کور خواته دتگ امر وکړ ، ما دهغوی داامر هم په خوشحالی ومانه هغوی ماته دچایو پیاله وړاندی کړه ، تردی وروسته یی افغانی کالی داغوستلو لپاره راکړل ، داگالی په ما کی بلکل جوړو ، دلږ ځنډ وروسته موږ دمحمود راقی خواته روان شوو ، داسیمه دمجاهدینو په لاس کی وه تقریباً لس بجی موږ هلته ورسیدو ، مجاهدینو زه دقوماندان نیازی مخی ته ودرولم ،

په اووم مخ کی

بوډا زنداني ...

په داسی نظر گوری چی هغه دده په کتو کی پوښتنی حل کوی نو سپین ږیری څپله کیسه داسی پیل کوی :
دکودتا په دوهم کال ما ددغه کافر حکومت په وړاندی دجهاد وسله په اوږه کره خو یوه ورځ زه دیوی سختی جگړی په جریان کی سخت ټپی شوم اوبیا په بیهوشی کی عسکرو ژوندی ونیولم ...
بسم الله جان په خبره کی ورولوید :
لکه ماغوندی ! کټ مټ لکه ما غوندی . زه هم همداسی شوم زه هم ټپی شوم اوبیایی ټپی ونیولم ...
چی هغه چوپ شو سپین ږیری هغه ته په ځیر ځیر وکتل بیایی په سترکو کی اوښکی ډنډشوی اوویی ویل :
زه یی له همغی ورځی بندی کړم اوبیا له خپل کلی اوکور نه خبر نه یم چی څنگه به وی .
زما زوی بسم الله جان به څنگه وی
زما نور کور ..خونوره دبوډا خبره په خوله کی نیمه پاتی شوه اوبسم الله په یوه کریږه لاس په غاړه ورامیل کړل زوی اوپلار دواړو په زندان کی سره وموندل خودغه دیدن اوخوښی ډیر دوام ونه کړ څوشپی وروسته ملااسد کاکا سخت ناروغ شو اوبیا یوه ورځ دهغه جنازه له زندان نه وویستل شوه اوبسم الله جان بیادغمونو اواندیښنو څپو ته یوازی پاتی شو .

په کشمیر کې دجهاد تکبیر!

هندي استبداد ته دنړیدو ګواښ

سید شهریار

دیوی اوږدی مودی راهیسی دکشمیریانو دازادۍ حق دهندي غاصبانو لخوا غصب شوې دې اونه غواړي چې ددغې سیمې خلك په ازاده فضا کې ازاد ژوندوکړي .

داسلام سترو دښمنانو (هندوانو) تل داهڅه کړې چې دمسلمانانو دغه ښکلې سیمه ترخپل ناروا تسلط لاندې ونیسي اواستوګن یې دغلامانو اومریانو په څیر استعمال کړي .

ددغه شوم اوناولي پلان له مخې هندي واکمنو همیشه له ډول ډول توطیو اودسیسو څخه کاراخیستي اوپه کشمیر کې یې دخپلو مزدورانواو ایجنټانو په واسطه کشمیریان دازادۍ او خپلواکۍ دترلاسه کولو څخه غافل ساتلي دي .

په نیول شوي کشمیر کې دکشمیریانو دپاڅون لوی سبب دافغانانو جهاد اودهغه په نتیجه کې دسرو لښکرو ستره او شرمیدلې ماته وه چې کشمریان یې له اوږده اودرانه خوبه راویښ کړل دخپل حق غوښتنې ته یې وهڅول اودظالم او غاصب مخې ته یې دیو اوسپنیز ځواك په توګه په پوره میړانه اوهمت سره ودرول ځکه کشمیریانو ولیدل چې دنړۍ هغه خونړې زبرځواك چې همیشه یې همسایه مظلوم اوبې وسه ملتونه له ستونی تیر کړي وو په افغانستان کې دیو څو ببر سرو بې وسلو اوبې وسیلو افغانانو له لاسه په ګونډو شوچې تولې نړۍ یې نارې سورې واوریدلي روسانو ته ماته ورکول دشلمې پیړۍ یوه ستره معجزه وګرځیده اودنړۍ محکومو ملتونو اوولسونو ته یې په ډاګه کړه چې دنړۍ پرمخ یو زبرځواك هم دتل لپاره دمظلومو پرګنو حق نشي غصبولای که چیری دغه مظلومې پرګنې دخپل حق دساتنې اوغوښتنې لپاره دظالم اوجابر مخې ته دزنګ وهلی توري سره هم ودریږي

> دکشمیریانو دپاڅون لوی سبب دافغانانو جهاد اودهغه په نتیجه کې دسرو لښکرو ستره اوشرمیدلې ماته وه چې کشمیریان یې له اوږده اودرانه خوبه راویښ کړل

اسلامي عقیدې دساتنې ، دخپل پت او غیرت دخوندي ساتلو اودخپلې ازادۍ دترلاسه کولو لپاره پخپلو وینو اوسرونو لوبې کوي ، نن دکشمیر هغه ښکلې سیمه چې دنړۍ دګوټ ګوټ څخه به یې سیاهان دلیدنې کتنې لپاره ورتلل دمظلومو کشمیریانو په وینو خړوب پرته ده نن دهغو ښکلیو ماڼیو څخه دخندا اوخوښۍ پر ځاې دویر ساندې اوریدل کیږي دوږځي په سل ګونو بې ګناه کوچنیان تور سرې سپین ږیري او ځوانان یوازې په همدې جرم له تیرې برچې څخه تیریږي چې ولې دهندوانو له واکمنۍ څخه سرغړونه کوي .

ددې تیرو شویو دوه نیمو کالو په موده کې په زرګونو کشمیریان واړه اوزاړه دهندي وحشي پوځیانو له لاسه پخپلو وینوکې ولمبیدل په رڼا ورځ په کورونو دتالاشۍ په نامه ننوتل اودمسلمانانو بیبیانو دعزت اوابرو سره یې لوبې وکړې ویې ځورولې ویې وژلې اودتحقیقاتو په نامه یې دکوځیو څخه نیولې دپوځي قطعاتو پورې راښکلې فقط دخپل حق دغوښتنو په جرم، په کشمریانو باندی ددې دومره سترو ناروا وو ظلمونو سره بیا هم نړیوال چوپه خوله دي هیڅ کوم جدی عکس العمل دهندوانو ددومره ناروا وو په مقابل کې نه ښايي چې ولې دغه ناروا وې کیږي ؟ دڅه لپاره کیږي ؟ اوپه کوم جرم کیږي ؟ داهمغه کشمیرندې چې ملګرو ملتوڅلورڅلویښت کاله وراندې دخپلې خوښې سره سم دخپلی رایې ورکولو اجازه ورکړې ده حتماً داهمغه کشمیردې خونن

دتش لاسو خو میړنو افغانانو لخوا په سوغات کې خپلو کشمیري مسلمانانو ورونو ته همدغه تازه ولولې اوپاریدلي جذبې وې چې دهندوانو خولې یې پرې له وینو ډکې کړې .

نن دکشمیر پرګنې دخپلې ملګري ملتونه دخپلې کړې پریکړې سره سره بیا هم غلي ناست دي ځکه ګوري چې اوردمسلمان په خونه بلیږی دمسلمان وینه تویږي اودمسلمان عزت اوابرو خاورې ایرې کیږي که دکشمیریانو اوافغانانو پورې هم نن دسترو کفري طاقتونو ذاتیات اوکتې ونښلې نوبیا به له ډیرې جدي رویې څخه کار واخیستل شي نه به بیا هند وي اونه روس هم به پرې اقتصادي بندیزونه لګیدلي وي

> روسانو ته ماته ورکول دشلمې پیړۍ یوه ستره معجزه وګرځیده اودنړۍ محکومو ملتونواوولسونو ته یې په ډاګه کړه چې دنړۍ پرمخ یوزبرځواکهم دتل لپاره دمظلومو پرګنو حق نشي غصبولای

اوهم به یې تول غربیان په ګډه سره مقابلې ته راوتلي وي .

اوترکومه پورې چې دمسلمانانو په حال ژړا دمسلمانانواواسلامي هیوادونو پورې اړه لري نو تراوسه بیده پراته دی .هریوه خپله پخوانۍ دپلرو اونیکو لارپریښې اوپه نالیدلو لارو یې دنامعلوم منزل په لور مزل پیل کړې که چیرې مسلمانان دپخوا په څیر په یوه اتفاق په ګډه سره یودریځ ونیسي اودیوه معلوم هدف ته درسیدو کوښښ وکړي ، نو خامخا کامیابي دلوی په برخه ده ځکه دمسلمان خو په یوه خدای (ج) تکیه او توکل وي اوچې کله په یوه الله تعالیٰ توکل وکړي نو بیا ورته هیڅ دنیاوي طاقت دټنیګي نه وي که هغه روس وي اوکه امریکاتاریخ شاید دي اوهره پاڼه یې له داسې بې شمیره پیښو څخه مالامال ده ځکه همدغه روس وُچې تش لاسوخو میړنیو افغانانو له دومره رسوایۍاوشرمیدلې ماتې سره مخامخ کړچې نن پخپل کور کې په غم اخته اوله ستونزورو حالاتو سره مخامخ دې هغه مستبد اوخونړي کمونستي نظام چې په مظلومو پرګنو یې دبرچې په زور چلوه نن یې پخپله په نړیدو لاس پورې کړې نن په ډاګه وایي چې کمونستي دنړۍ اوانسانانو لپاره دیوی تورې کمپلې مثال درلود نن باید نړیوال دغه ناوې اوتوره کمپله څیرې کړي .

همدغه کشمیریان وُچې په تشو لاسو یې دهندوانو په مقابل کې جهاد او مبارزه پیل کړه اوبرمیال غورځنګونه

په ۷ مخ کې

دخوست ویاړمنه فتحه د قوماندانانو ...

اودڅرخ علاقداری شوری مې راټوله کړه په یو لړ جهادی مسایلوموخبری وکړی ، دخبرو په جریان کې دشوری برخه والو له ماڅخه وغوښتل چې دڅرخ په شوری کې ورسره شریك شم ترڅو په ګډه سره ددښمن په مقابل کې عملیات ترسره کړو

ماورته پوره ډاډ ورکړ او ورته وعده مې ورکړه ، چې زه به مجاهدین له تاسی سره ګډو

عملیاتو سرته رسولو لپاره راولیږم.

پوښتنه : که چیری مجاهدین ګردیز ، کابل اویانورو لایات ونیسی نو دیوی واحدی سیاسی اداری دنشتوالی له نظره نوموړی مسئله څرنګه ارزیابی کوی ؟ ایا مجاهدین به پدی صورت کې سوله او امنیت تامین کړای شی ؟

ځواب : پخواله دی چې مجاهدین په کابل خپل ګډ عملیات پیل کړی ، لازم دی چې یوه واحده مقتدره اداره لکه دخوست دشوراګانو په شان ، چې دټولو تنظیمونو دقوماندانانو ملاتړورته حاصل وی رامنځ ته شی پرته له دی نه دامنیت مسله مشکله ده.

پوښتنه : آیا دمجاهدینو ګډی شوراګانی به دکابل په امنیت اوسوله کې دکوم عمده مشکل سره مخامخ نشی ؟ که داسی وی نو دمجاهدینو شوراګانی باید څه وکړی ؟

ځواب : دمجاهدینو توکل پر خدای (ج) دی موږ دجهاد دهمغه لومړیو ورځو څخه دخپلو عملیاتواوپروګرامونو په عملی کولو کې توکل پر خدای (ج) کړیدی نو دکابل دنیولو ترمخه یوه لویه فوق العاده اداره کوونکې شوری چې په اسانی سره دکابل کنترول ، ساتنه اواداره وکړای شی جوړه شی.

پوښتنه : دفوق العاده اداره کوونکی شوری څخه مو مراد څرنګه شوری ده اوپه کوم نوم باید یاده شی ؟

ځواب :- څرګنده ده چې کابل دافغانستان پایتخت اومرکزی برخه ده نوداسی یوه شوری باید دافغانستان دعلماکرامومشهورو قوماندانانوڅخه تشکیل شي ترڅوله یوی خوا دټولو مجاهدینو لپاره قابل قبول اودبلی خوا نړیوال تعاون اومرسته حاصل کړای شي لکه دقوماندانانو سرتاسری شورا ، دیوی اساسی مرجع په توګه ایجاد اوجوړه شی ، اوهمدارنګه لازم دی دمجاهدینو یوه واحده قوه دکابل امنیت ټینګ کړی. دغه قوه باید دټولو تنظیمونو دمجاهدینو له منځ څخه دیوی باوری قوی په توګه رامنځ ته شی .

> دقوماندانانو سرتاسري شورا دټولوجهادي تنظیمونو دملاتړ څخه برخمنه ده اواکثره نفوذ لرونکي قوماندانان پکښي شمولیت لري اووخت په وخت به زیات شمیر قوماندانان دعضویت اخیستواوترلاسه کولولپاره شورا ته مراجعه کوي.

پوښتنه : تاسی دقوماندانانو دسرتاسری شورا نوم واخیست نوموړی شوری چې دیو کال څخه راپدیخوا جوړه شوی ، تراوسه یې څومره ملاتړ ترلاسه کړی. آیا دټولو تنظیمونو قوماندانان پکی برخه لري که څنګه ؟ اوپخپلو چارو کې یې څومره پرمختګ کړی دی؟

ځواب : واضحه ده چې دقوماندانانو سرتاسری شوری دیو شمیر جهادی قوماندانانو دزیات زیار او هڅو په نتیجه کې دجهادی پروګرامونو دلاښه نظم او انسجام په منظور رامنځته شوی ده.دقوماندانانو سرتاسری شوری دټولو جهادی تنظیمونو دملاتړ څخه برخمنه ده او اکثره نفوذ لرونکی قوماندانان پکی شمولیت لری او وخت په وخت زیات شمیر قوماندانان دعضویت اخستو اوترلاسه کولو لپاره شوری ته مراجعه کوی خو که څنی دغرض خاوند پکی عضویت هم ونه لری دجهادی تصمیمونواو پروګرامونو دتطبیق پرمخ کې خنډ نشی واقع کیدای .

دقوماندانانو سرتاسری شوری دتاسیس له وخت څخه راپدیخوا په جهادی ساحو کې دکتنی اوستاینی وړ پرمختګ کړی دخوست ویاړمنه فتحه دهمدغه شوری دپرمختللی فعالیت غوره نمونه ګڼلې شو .

په باندنی سطحه دقوماندانانو شوری دیو شمیر اسلامي هیوادونو مرستې حاصلې کړی اودزیات قوت او ملاتړ دلاسته راوړلو پخاطر دشوری نمایندګان بهرنیو هیوادونو ته په سفر تللی دی ، انشاالله په بریالیتوب سره به سفرونه پای ته ورسوی .

پوښتنه : محترم حاجی صاحب دافغانستان دقضیې دحل په باب دملګرو ملتونو دپنځه فقریزی طرحی اودهغی له مخی افغانستان کې دوسیع البنیاده حکومت دجوړیدو په هکله ستاسی نظر څه دی ؟

ځواب : هره هغه فیصله ، تصمیم او طرح چې دمجاهدینو دمیل اوغوښتنو خلاف وی اوهرهغه حکومت چې ګوډاګی اوملحد نجیب پکښی شمولیت ولری موږته دمنلو وړنه دی. له دیارلس کلو څخه زیاته موده وشوه چې مجاهدین داسلام دبقا اودافغانستان دآزادی په لاره کې نه هیریدونکی قربانی ورکوی اوخپلی پاکی وینی پدی پاکه اوسپیڅلی لاره کې شندی نو دیوه ګوډاګی اوخرڅ شوی انسان سره حکومت جوړول داسلام سپیڅلی دین او وطن سره جفا ده .

دروس - امریکا موافقه او وړاندیزونه زموږ دجهاد پرضد ګډ سازشونه دي

دبی ، بی ، سی رادیو دخبریال ددی پوښتنی په ځواب کی چی نړیوال غواړی دافغانستان قضیه دسولی له لارې حل شی ، اوجګړه پای ته ورسیږی نوددی لپاره یوازینی لاردا وګڼل شوه چی روس اوامریکا په دواړو خواووسلی بندی کړی تاسی ددغه موافقی په هکله څه نظر لرئ ؟

حقانی صاحب وویل : دروس اوامریکا له خوا دمرستو بندیز دافغانستان دقضیی دسیاسی حل په اړه دملګرو ملتونو دپنځه فقریزه طرحی دیوی مادی تطبیق دی دا اعلان کومه نوی خبره نه ده ، نوځکه داپه مجاهدینو کوم دکتنی وړاغیزه نشی کولای ، مجاهدینوخاص دالله (ج) دمرستی په داړ دالحاد اوفساد په وړاندی وسله وال جهاد پیل کړی دی په دی لارکی دخدای (ج) نصرت له موږسره دی دبل چا دمادی مرستو ورکړه یانه ورکړه زموږ په هوډ کی تغیر نه شی راوستلای ، اوپاتی شوه داخبره اوموافقه چی په دواړو خواو دی وسله بنده شی نو جګړه دی هم پای ته ورسیږی داموږدمؤمنو مجاهدینو په داخلی چارو کی لاسوهنه ګڼو ، موږداجهاد په افغانستان کی دکفر، الحاد اوفساد دله منځه وړلو اودیو اسلامی حکومت دقیام په خاطر پیل کړی دی ، ترڅو چی موږ خپل ستر هدف ته نه یو رسیدلی داجهاد به ادامه ولری .

موږدسیاسی حل خبری اتری اودروس-امریکا دغه ډول موافقی او وړاندیزونه دجهاد په وړاندی دکفری ځواکونو ګډ سازشونه بولو اوداچی ځینی خلك دمجاهدینو په نوم له دغه ډول طرحواو سازشونو سره خپله موافقه څرګندوی —

که هغه مجددی صاحب وی اوکه ګیلانی صاحب اوکه بل څوك دادهغوی شخصی نظردی هیڅکله هم دمجاهدینو نمایندګی نشی کولی ، دمجاهدینو دریځ په دی هکله معلوم دی اوپه ډاګه وایی ترڅو چی په افغانستان کی دروسانو مزدور رژیم رانسکور نه شی دافغانستان دقضیئ هیڅ ډول سیاسی حل منځ ته نشی راتلای.

موږ په افغانستان کي څه...

هغه په ورین تندی زه استقبال کړم اودکیناستلو اشاره یی راته وکړه ، هغه ماته یقین راکړ چی دمجاهدینو په مرکز کی به دی ښه ساتنه وشی اوهیڅوك به ضرر درونه رسوی په رښتیا چی هغه زما ناکراره اروا آرامه کړه ، دلنړی ارامتیا وروسته چی زما ویره ورکه شوه هغه له ما بیلابیلی پوښتنی وکړی په دی وخت کی دهغه برخورد دملګری په شان ؤ ددی سره سره زه په زړه کی ویریدم ، زما په زړه کی به ګرځیدل ، اخربه هغه یو روسی پوځی څه ډول بخښی دچاهیوادوالو چی ددوی په زرګونوورونه او خویندی وژلی اوهغه چی ددوی تی خوری ماشومان یی هم نه دی بخښلی.زه دیو

قاتل قوم زوی یم اودهری جزا وړ ، خو قوماندان نیازی به تل له ماسره شفقت کاوه هغه ماته په فارسی ژبه خبری کولی رازده کړل ، کله به یی چی فرصت پیداکړ زما ترڅنګ به کیناست اوماته به یی داسلام اوداسلام دمقدسو اصولو په باب خبری کولی،دهغه خبری ډیری خوږی اوزړه راکښونکی وی.قوماندان نیازی به کله ناکله بهرهم وباسلم ، ترڅو په یوه ځای کی ونه ویریږم ، یو ځل هغه زه دغوربند ولسوالی‌ته بوتلم

ماچی ددی سیمی خاوره ولیده حیران شوم هغه بلکل سره شوی وه اودزهرلرونکو ګازونه نتیجه وه چی روسانو پر استعمال کړی وه‌ځمکی سوی وی قوماندان نیازی له ماڅخه ددی ګازو په باب وپوښتل خو زه په خپله تری بی خبره وم ما هغه ته وویل روسان په افغانستان کی ډول ډول ګازونه استعمالوی په هیڅ ډول بمونو دهغوی نوم نه وی لیکلی نمره یی لیکل کیږی چی یوازی لوړو قوماندانانو ته معلومه دی .

«نوی رڼا»

دهند اوپاکستان ترمنځ خبری اتری وځنډیدی

نوی ډیلی ، دسنبلی ٢٤ مه :

دهند اوپاکستان ترمنځ دبهرنیو چارو وزارت سکرترانو په سطحه دپنځم ځل لپاره خبری اتری وځنډیدی دنوی ډیلی راډیو ددغه هیواد دبهرنیو چارو دیوه ویاند له خولی خبر ورکړی کومی خبری چی په راتلونکی اونی کی په اسلام اباد کی کیدونکی وی تر نامعلوم وخته پوری ځنډیدلی دی ویاند زیاته کړیده چی دپوځی مسایلو څخه پرته په نورو برخو کی خبری اتری بی نتیجی دی ځکه دپاکستان خارجه سکرتر شهریار خان پخپله داغوښتنه کړی وه چی هر اړخ به تر څیړنی لاندی نیسی خو اوس دخپلی وعدی څخه پخپله سرغړونه کوی

دروس - امریکا ګډه موافقه ...

دروسانو دموجودیت په وخت کی چا څه مالی مرسته کړی وی هغه یی دیو خاص سیاسی هدف لپاره کړی ده نه له افغانانو سره دخواخوږی اوغمشریکی له مخی.اوکله چی ددوی دغه سیاسی هدف تر سره شو ، روسان دافغانانو دویاړمن مقاومت او بیدریغه قربانیو په نتیجه کی له افغانستان څخه تر شرمیدلی ماتی وروسته په تیښته ووتل ، بیا له مجاهدینو سره مرستی بیخی کمی او حتی اوس په نشت شمیر دی .

خوله مجاهدینو سره دمرستوکموالی دهغوی په هوډ کی هیڅ تغیر نه دی راوستی اوپه ډاګه وایی چی موږد الله (ج) درضا اواعلای کلمة الله په خاطر جهاد پیل کړی په دغه لار کی موږ یوازی دخدای (ج) په مرسته تکیه لرو ، اوبس .

ترکومه چی خبره دافغانستان دقضیی دسیاسی حل پوری اړه لری په دی هکله هم درښتینو مجاهدینو دریځ ثابت دی اوپه غوڅه یی ویلی دی چی دافغانستان دقضیی حل دروسانو دمزدور رژیم تر بشپړ رانسکوریدو پوری امکان نلری .

که دملګروملتونو ترسرپرستی‌لاندی دجینوا دخبرو اترو لړۍوه هم هدف یی یوازی روسانو دحیثیت خوندی ساتل په افغانستان کی ددوی په شرمیدلی ماتی پرده اچول اودنړیوالو له نظره پټول وو ، اوکه دا راوروسته پنځه فقریزه طرحه اوکه تر هغی را وروسته ددری اړخیزو خبرو اترو پیلامه اوادامه ده اوکه اوس اوس دروسیې او امریکا دبهرنو چارو دوزیرانو ګډه موافقه اودافغانستان دقضیی دحل په اړه وړاندیزونه اوطرحه ده اوکه .....موږ داټولی دخپل جهاد په وړاندی ګڼدی توطیی اودسیسی بولو چی داسلام ، مسلمانانواوافغانستان دښمنان غواړی په دغه وسیله په سیمه اونړی کی زموږ دجهاد اغیزی شنډی اوپه افغانستان کی دمجاهدینو په لاس دیو اسلامی حکومت دجوړیدو مخه ونیسی.مجاهدین یوازی اویوازی دخدای (ج) په مرسته اوپر خپل ویاړلی مقاومت واړمن دی ، کوم ستر هدف ته درسیدو په هیله چی دوی جهاد اوالوله مبارزه پیل کړی اودکوم ستر ارمان لپاره چی یی دادومره ستونزی ، کړاوونه ، مالی او ځانی قربانی‌منلی او زغملی دی ، خپل سر منزل اوستری هیلی ته تررسیدو پوری به خپله وسله وال جهاد ته‌ادامه ورکوی ، په دغه لار کی نه دچا دلړی اودیری مادی مرستی ورکړی اونه ورکړی څه پروا کوی‌نه یی څوك له خپله هوډه راګرځولای اونه پری څوك ددوی له خوښی پرته خپلی پریکړی اوفیصلی منلای شی .

دغور ولایت په بیلابیلوامنیتی مرکزونو بریدونه

په کویټه کی دمیډیا نمایندګی دغور له ولایت نه رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دسنبلی په ١٦ مه نیټه دشهرك‌ولسوالی په مرکز اوشاوخوا پوستو برید وکړ چی په نتیجه کی دملحد رژیم یوشمیر عکسر اوملیشه مړه اویوه عراده زغروال ټانك داور لمبه شوی دی .

دخبر ځای دیو بل رپوټ له مخی مجاهدینو پدغه ولایت کی دتولك پر ولسوالی اوشاوخوا امنیتی پوستو یو لړ بریالی عملیات ترسره کړل چی دهغی په اثر دکابل رژیم له قواونه شپږ تنه عسکراوملیشه مړه ، څلور تنه ټپیان او پنځه تنه نور دوسلو سره ژوندی نیول شوی اودښمن قواوته درانده مالی تاوان وړپه برخه شوی دی .

همدارنګه دغور څخه دخبر ځای دیو بل خبرله مخی پدغه نیټه دغور په ولایت کی مجاهدینو ددغه ولایت مرکز دچغچران دښار په ختیځه برخه دولت یار دسیمی پر پوستو یو لړ عملیات ترسره کړل چی دهغی په اثر درژیم له قواونه لس تنه عسکراوملیشه مړه اویو شمیر نور ټپیان شوی دی .

درپوټ مطابق په نوموړی سیمه کی درژیم دقواو له خوا دځای په ځای شوی پرسونل ضد مین دچاودیدو له امله په همدی نیټه پنځه تنه مجاهدین په شهادت رسیدلی دی .

په کشمیر کې دجهاد تکبیر..

یی ګړندي کړل هندوانو که هر څومره هڅه وکړه چی دآزادی دغه ناره دکشمریانو په ستوني کې وچه کړي خو دهري خوادخپل هریو شوم پلان سره په بشپړتوګه ناکام شول هندی واکمنو ددغی سپیڅلی مبارزی دسرولو لپاره دکشمیر وادۍ ته له څلورو لکو څخه زیات په خطر ناکو وسلو سمبال هندي اونور اسلام دښمنه متعصب پوځونه ولیږل خو هیڅ کومه کامیابی یی په برخه نشوه نن کشمیریان له درنو درنو اونوو نوو وسلو سره په هندي پوځي قطعاتو بریدونه کوي اودرانه درانه زیانونه وراړوي لومړي خو کشمریانو هیڅ کومه وسله نه درلوده داخو همغه وسلې دي چی له هندوانو څخه یې اخیستي دي اوبیرته یې پرې ددوي خوبونه حرام کړي دي. نن که دنړۍ رادیو ګانی دي

اوکه دنړۍ ورځپاڼي ګردې دکشمریانو دفتحواوسوبو په خبرونو ډکې دي که په زرهاوو کشمریان شهیدان شوي دي نو ورسره دوچنده اوترډې هم زیات هندي پوځیان دمرګ له کومي تیرشوي دي .

نن پخپله دنیول شوي کشمیر پخوانۍ والي وحشي جګموهن پدې اعتراف کوي چې په نن سبا کې کشمیر دهندي واکمنو له لاسه وتونکې دې ځکه هندي واکمنو په کشمیر کې له ډیر زیات وحشیتوب څخه کار واخیست.

داهمغه جګموهن دی چې دزرهاووبې ګناه کشمیریانو په‌وینو یې لاسونه سره او ککړ دي پخپله واکمنۍ کې یې په یوه ظلم هم صرفه نده کړې خو نن مجبور دې چې پخپله ناکامۍ‌اعتراف وکړي .

اوپدی وروستیو شپو او ورځو کی خو هندي واکمن پوره باوري شوي چې کشمیر یې دلاسه روان دې په هیڅ قیمت یې له ځانه سره نه شي ساتلې نو ځکه یې دسرینګر څخه دراډیو اوتلویزیون ستدیو ګانې هم نوې ډیلي ته وليږدولې . له دې پرته بل په ډاګه ثبوت کوم یو کیدای شي ایا مخکې هم چیرې هندي واکمنو ددغو ستدیو ګانو ددری دوه کالو په موده کی دمنتقلیدو فکر کړې وُ ؟

دهندي واکمنو خویه چې په نور څه لاس برنشو له ناکامی‌سره به یې تندي وجنګیدل نویابه یې اضطراري حالت اعلان کړ اویابه یی دجمعې په لمانځه بندیزولګاوه اودبې ګناه خلکو دنیونې لپاره به یې لار هواره کړه دماتې پدی وروستیو شپیو ګی خویې په جوماتونو کې په اذان باندی هم بندیزونه لګولي دي اوورسره دغو بدبختو فاسقانو داتور هم لګولي دي چې دغه اذان دراپاریدلو مسلمانانو په منځ کی دمقبرۍ اوجاسوسۍ‌کار کوي ترڅو پدی ناوړه عمل دمسلمانانوزړونه‌ودردوی

خو دهندوانو دغه ناروا ظلمونه ناولي او شومې هلې ځلې به ترڅو پورې دوام ولري دوی به کوم کوم کشمیري مجاهد دبرچې په زور دخپل هدف څخه واړوي ایا دوي نه ویني چې ددوي بادار شوروي دبرچې په زور خپله ناولې نظریه په افغانانو تطبیق نکړه نو موږبه یې څه تطبیق کړو ؟ هندوان باید دنړۍ په روانو حالاتو ځغلنده نظرواچوي اودوخت اوحالاتو دغوښتنی سره سم چلند وکړي ځکه روسیه نن دهغوهیوادوآزادۍ‌ته په سره سینه غاړه ږدی په کومو یی چی پنځوس کاله واکمنې کړې وه هندوان هم باید دکشمریانو غوښتنې دسرپه سترګو ومنې اوکه نه هغه ورځ لرې نه ده چې دروسانو په څیر هندوان هم پخپل کور کی په غم اخته شي اوس خو ورته دکشمیریانو مبارزه فقط دسردرد ګرځیدلې اوانشاالله په راتلونکې کې به ورته ملا ماتوونکی تمامه شي .

دجهاد هنداره دجهادپه ویاړمنه ...

به دتول هیواد دنومیالیو غازیانو په توره ځلولو کی دهیڅ ډول تعصب ، تبعیض اوتوپیرتر اغیزی اوتاثیر لاندی رانه شی ، چی دادی لله الحمد په تیریوه کال کی ددغه اونیزی چلوونکی پرخپله ژمنه اوپیمان کی تر ډیره حده پابند او رښتینی شول ، ددغه جریدی په ځولی کی له پامیره تر هلمنده اوله سلیمان اوسپین غره تر آمو پوری ددرست هیواد دتوریالیو غازیانو دتورو اوشهادتونو داستانونه او خبرونه خپاره شوی دی داونیزی په پاڼو کی وخت په وخت زموږ دبرمیال جهاد پر خلاف له بین المللی سازشونو څخه پردی پورته شوی داسلام اوجهاد پر خلاف پټې دسیسې اوموضعگیری افشاءشوی اوترډیره حده داسلام ددښمنانو دمقابلې لپاره موثرې اواغیزمنې لارې په گوته شوی دی .

همدارنگه لوستونکی شاهدان دی چی دغه جریدی په خپله تنگه غیږه کی ترخپله وسه پوری په بین المللی پیښواوحوادثو کی له څرگندی،قاطع اواسلامی موضع څخه برخورد کړی ، جهادهنداره نه یوازی دافغانی غازیانو دجهاددمورچل هنداره وه بلکی له کشمیره تر فلسطین پوری دټول اسلامی امت ددردونو، رنځونو ، فتحو ،شهادتونو، تکبیرونو اوویاړونو دانعکاس هنداره وه ، اوکه خدای (ج) کول وی به .

په دغه سفر کی چی که جهاد هنداری اونیزی تراوسه پوری څه ویاړونه اوافتخارونه گټلی په دی کی هغه درانه اومؤمن لیکوال سم راسره شریك بولو چی دسره اوتور استکبار پرضد یی دقلم توری چلولی اوله جهاد هنداری سره یی خپله قلمی همکاری ساتلی ده ، ددی ترڅنگ پردی هم اعتراف کوو چی زموږ دعظیم اسلامی انقلاب عظمت اوتقدس ډیرلوړ دی اولکه څنگه چی ددغه عظیم انقلاب تقاضا ده ، هغسی موږلا په خپل کار کی ډیری نیمگړتیاوی اوکمی لرو ، زموږ مؤمن ملت لادتودی جگړی په ډگر ولاړ دی ، دجهادمورچلونه تاوده دی ، دشهادت کاروانونه پرله پسی روان دی ، اودمو منو غازیانو دټوپك شپیلی لادتکبیر په بدرگه دکفراوالحاد پر مانی،خپلې گولی اوروی ، چی داټول باید په دغه هنداره کی وځلیږی خوندی اوابدی شی اوزموږ دهیواد اواسلامی امت راتلونکو نسلونوته دیوه اتل اومؤمن ملت دجهاد ، شهادت اوشرف دویاړلی تاریخ جز وگرځی .

موږ یو ځل بیا دخپل هیواد مؤمنو لیکوالو اوویناوالو اودپوهی اوفضل خاوندانو ته په خپل راتلونکی سفر کی دنیکو مشورواو قلمی مرستو لپاره دخواست لاس غځوو .

هیله ده جهاد هنداره زموږ ټول مجاهد هیواد وال دخپل برحق جهاد هنداره وبولی اوله موږ نه خپلی ارځښتمنې مشورې اوقلمی همکاری ونه سپموی .

ومن الله التوفیق

هزاران تن از اهالی اذربایجان دست به تظاهرات زدند

باکو، ۲۳ سنبله :

هزاران تن از اهالی جمهوریت انربایجان روز گذشته طی تظاهراتی شدیدی غیر قانونی قرار دادن انتخابات گذشته برای ریاست جمهوری وتدویر انتخابات ازاد در آن جمهوریت را از حکومت تقاضا نمودند .

مظاهره کنندگان همچنان علیه کمونیزم ونظام کمونستی شعار می دادند .

قابل یاداوریست که اذربایجان همچو جمهوریت های دیگر روسیه بعد از اعلان ازادی انتخاباتی رابرای ریاست جمهوری براه انداخته بود ولی دراین انتخابات صرف یکتن کاندید برای این مقام وجود داشت .

اکنون مظاهره کنند گان این انتخابات راردنموده وانرا غیر قانونی می خوانند .

په کندز کی درژیم دوه پوستی ویجاړی او۲۵ تنه نظامیان مړه شوی

کندز ، میډیا :

دکندز ولایت نه درسیدلی رپوټ له مخی مجاهدینو دسنبلی په ۱٦ مه دکندز دښار مرکز شاوخوا سیمو په امنیتی پوستو یو لړ کړو عملیاتو په ترسره کولو سره ددښمن دپوځیانو څخه ۲۵ تنه ملیشه اوعسکر وژلی ۳۵ تنه نوریی ټپیان او ۱۰ تنه نور دخپلو وسلو سره ژوندی نیول شوی دی.

په خبر کی زیاته شوی چی ددغه نښتی په جریان کی درژیم ۲ امنیتی پوستی ویجاړی او دنظامی مهماتو یوه ډیپو سوځول شوی ده .

دخبر مطابق ددی عملیاتو په سبا دکابل دملحد رژیم جیټ الوتکو دکندزپه ولایت کی دمجاهدینو مورچو اودکلی والو داستوگنی په ځایونو باندی وحشیانه بمباری وکړه چی په نتیجه کی ۱۰ کورونه ویجاړ ۳ تنه مجاهدین شهیدان اودکلی والو څخه ۸ تنه ښځی او ماشومان ټپیان شوی دی.

دلوگر په ولایت کی دکابل رژیم ۸ تنه دخاد غړی ووژل شول

لوگر ، دسنبلی ۲۱ مه :

په پیښور کی دقوماندانانو شوری سیاسی دفتر خبر راکړچی دلوگر ولایت دمجاهدینو یوه چریکی گروپ تیره هفته دلوگر ولایت دکلنگار ولسوالی پوری مربوط دقلعه وزیر په سیمه کی دکابل رژیم دخاد پر قرارگاه باندی برید وکړ چی دهغی په نتیجه کی ۸ تنه دخاد غړی مړه یو شمیر نور ټپیان اوځو پوځی ځالی یی له منځه وړل شوی دی .

رپوټ زیاتوی چی مجاهدینو پدی جگړه کی درژیم له قواؤ نه ۱۸ میله ټول ټول وسلی اویوه اندازه مهمات ولجه کړیدی

بروز اختلاف میان خالقیارونجیب

کابل میدیا :

خبر نگار اعزامی میدیا از کابل خبر میدهد فضل الحق خالقیار صدراعظم رژیم کابل بروز اختلافات درکابینه واحتمال سلب اعتماد از مقامش قرار است غرض مشوره با گورباچوف رئیس جمهور روسیه درین مورد عنقریب به مسکو سفرنماید.

خبرنگار میدیا ازقول ناظران اگاه درکابل می افزاید خالقیار این تصمیم را روز پنجشنبه ۲۱ سنبله پس از جلسه کابینه که دران فیصله بعمل امده تابه پارلمان دستور سلب اعتماد ازوی داده شود ، اتخاذ کرده است

شایعات حاکیست خالقیار که ازاشخاص نزدیك به گرباچوف است بنابردستور وی ازسوی نجیب به مقام صدارت رسیده واکنون با تحولات سریعی که بدنبال کودتای ناکام در روسیه بوقوع پیوسته است اعضای کابینه علیه وی قرار گرفته وبه پارلمان قلابی کابل که کاملا در تسلط حکومت است دستور داده شده تاازوی سلب اعتماد نماید ، ازینرو خالقیار تصمیم رفتن بروسیه راگرفته تاشخصا ازگرباچوف بخواهد مانع این فیصله گردد.

طبق اطلاع خبرنگار میدیا خالقیار قرار است سفر غیر رسمی ومخفی به امریکا نموده وضمن ملاقات با جورج بش ازوی تقاضای حمایت از حکومتش رانماید:

خبر نگار اعزامی میدیا ازقول منابع اگاه ونیز به حواله شایعات در کابل می افزاید احتمال دارد «فرید مزدك » معاون حزب وطن ویا «عبدالرحیم هاتف» معاون نجیب در اینده بجای خالقیار به سمت صدراعظم تعیین ومقرر گردد.

.هیئت تحریر ترنظر لاندي
مکاتباتي پته
پوست بکس (۱۰۳۳)
یونیورستي تاون پیښور
تیلفون : ... ۸۱۲۸۸۱

داترپردیش ایالاتی دولت دبابری جومات دورانولو پریکړه صادره کړه

نوی ډیلی ، دسنبلی ۲۳:

دخپروشویوخبرونو له مخی دهند داترپردیش ایالاتی دولت په اجودیا کی دمسلمانانو دتاریخی بابری جومات دورانولو په هکله خپله له شرمه ډکه پریکړه صادره کړیده ددغی پریکړی له صادرولو څخه وروسته دهند مسلمانان له سخت تشویش سره مخامخ شول .

خبر زیاتوی دغه پریکړه داسی وخت کی وشوه چی داله اباد ستری محکمی په بابری جومات اونورو مذهبی دینی متنازعه ځایونو باندی دورانولو او جوړولو په کارونو بندیزونه لگولی دی خوداترپردیش ایالتی حکومت چی دمتعصبو هندوانو دگوند (بهارتیه جنتا) په لاس کی دی له گردو عدالتی پریکړو څخه سرغړونه وکړه اودجومات دورانولو فیصله یی صادره کړه دخبرونو له مخی ددغی پریکړی له صادرولو څخه وروسته په هند کی مظاهری پیل شوی دی .

دمزدور رژیم مشر له هند څخه دمرستی غوښتنه وکړه

نیویارك ، دسنبلی ۲۵ مه :

دروس او امریکا ترمنځ د۱۹۹۲ م کال دجنوری دمیاشتی دلومړی نیټی پوری په دواړو خواوو دوسلو دبندیزله پریکړی څخه سمدستی وروسته دکابل دگوډاگی رژیم مشر نجیب خپلوخواخوږو هند اوشمالی کوریا څخه دکومکونو غوښتنه کړی .

دامریکا دنیویارك ټایمز ورځپاڼی دخبر له مخی چی دکانگریس دیوه تن غړی چارلس ولسن له خولی خپور شوی ویل شوی چی نجیب ته دمرستوورکولو اخرنی اسره یواځی هند پاتی شو .

خبر ځای زیاتوی چی په دواړو خواوو دوسلو له بندیزڅخه وروسته دمزدور رژیم واکمنی پای ته رسیدونکی ده خوپه افغانستان کی فوری جگړه بندول اوامنیت راوستل ستونزوره خبره ده .

بسم الله الرحمن الرحیم

دپکتیا اوپکتیکا ولایتونو دنظامی شوری اعلامیه

دگردیز دښار اوسیدونکو صاحب منصبانو ، دولتی مامورینو محاصره اوپه زور په ذولنوکی تړلوکلیوالو! موږ داسلام ددین سپاهیان غواړو په لاندې ټوټکیو کی په لنډه توگه خپل غږ تاسی ته دررسوو:

دمجاهدو تنظیمونو دعمومی عفوی څخه چی دمخه اعلان شوی ، گټه واخلئ ، هرڅوك چی مجاهدینو ته پناه راوړی،عسکروی که صاحب منصب ، مامورری اوکه کلیوال اوسیدونکی ددوی هرڅه به په امن کی وی،هر څوك چی بی له جگړی څخه تسلیم شی دهغوی لپاره دمجاهدینو له خوا عفوه اعلان ده اوهغه څوك چی غواړی بی ځایه مقاومت وکړی مجاهدینو ته دتاوان رسولو اووینوتویولوکوشش کوی عاقبت به یی له پښیمانۍ پرته بل څه نه وی . که چیری نور نه پوهیږی نودخوست له ماتی څخه دعبرت درس واخلئ چی دمجاهدینو دعفوی څخه یی په وخت باندی فایده وانخیسته انجام یی پښیمانې شوه اوس .

نوپه ډیر تأکید سره وایو چی له دی طلایی موقع څخه گټه واخلئ اوس چی روسان په مسکوکی دلیتن په کړو وړولعنت وایی ډیر دافسوس ځای دی چی تاسی دمزدور او ملحد نجیب دزور اوظلم لاندی خپل کوچنیان اوتور سرې کړوئ اوذلت شپی ورځی تیروی تاسی لااوس هم روسانو مزدور نجیب ته چی دلیتن غلام دی دکامیابۍ اوښه کیدو امید کوی ؟ په آخر کی وایو چی پخپلو کوچنیانو تورسریوباندی رحم وکړئ نور دافغان مسلمان ملت سره دخیانت اوظلم کولوڅخه لاس واخلئ اودخپل ارام ژوند دتیرولو فیصله وکړئ .

ومن الله التوفیق